# افغانستان آزاد – آزاد افغانستان

**AA-AA**

چو کشور نباشد تن من مبــــاد　　بدین بوم و بر زنده یک تن مــباد
همه سر به سر تن به کشتن دهیم　　از آن به که کشور به دشمن دهیم

www.afgazad.com　　afgazad@gmail.com

| Political | سیاسی |
|---|---|




د افغانستان د زیارکښانو ټولنیز انجمن (د جبارخیل لیکنه)


۱۳ فبروری ۲۰۱۷

# په روانه ښکیلاکي جګړه کې هره ورځ دری ماشومان وژل کیږي

دا وطن ډیره موده کیږي چې د زیارکښانو وطن نه دی. دلته زیارکښان تر ټولو بد ژوند لري او په هر هغه هیواد کې چې زیارکښان بد ژوند ولري، هغه هیواد د زیارکښانو وطن کیدای نشي. دا وطن هغه وخت د زیارکښانو وطن کیږي چې واګی یې د زیارکښانو په لاس کې وي، دولت او واک د زیارکښانو په لاس کې وي، زیارکښان په برابره او هوسا ټولنه کې ژوند وکړي، ماشومان یې آرام، ښاد او خوشاله ژوند ولري، درس ووایي، ښوونځي ته لاړ شي، روغتیا ولري او خپل برخلیک جوړ کړای شي.

خو، اوس چې زمونږ په هیواد کې ښکیلاکي او ارتجاعي جګړه روانه ده، دا وطن د زیارکښانو لپاره د مرګ، وژلو، ویجاړیدنې، بربادی، بیوزلی، اسارت، فقر، کډوالی، سوالګری، ناروغی او دربدری وطن دی؛ خو د شتمنو سرمایه دارانو، تجارانو او فیوډالانو لپاره چې دولت جوړوي او یا له دولت څخه بهر د دولت او ښکیلاکي قوتونو په ملاتړ شتمنۍ ټولوي، وطن دی.

بهرني ښکیلاککران، کورني واکمنان، جهادیان، طالبان او داعشیان او د دوی تر څنګ اینجو لرونکي او د سرکاری نهادونو او بنسټونو مالکان ټول د زیارکښانو دښمنان دي. په دې وطن کې د زیارکښانو لپاره هره ورځ کړاو او ربړه ډیریږي. د زیارکښانو ماشومان په بیرحمۍ وژل کیږي او کورنۍ یې په ویر کینول کیږي.

په افغانستان کې له ماشومانو څخه د ملاتړ نړیوال سازمان په خپل وروستي راپور کې کاږلي دي چې ۲۰۱۶ کال د ماشومانو لپاره تر ټولو وژونکی کال و. په دغه کال کې په جګړه کې نژدې ۱۰۰۰ تنه ماشومان وژل شوي دي چې په ورځ کې په اوسط ډول د دری تنه ماشومانو د وژلو ښکارندوي کوي. د دې تر څنګ دا سرکاری سازمان وایي چې دمګړۍ په افغانستان کې یو میلیون او دوه سوه زره ماشومان د جدي ګواښونو او زیانونو سره مخامخ دي. دا ماشومان چې ډیری یې په سړکونو او ورکشاپونو کې کار کوي، د تیري جنسي په ګډون د بیلابیلو زیانونو او ګواښونو سره مخامخ دي.

پورته بدمرغی او ناورین او جنایت په ښکاره توګه مونږ دې پایلې ته رسوي چې اوسنی وطن د زیارکښانو لپاره وطن کیدای نشي. په هغه وطن کې چې دیرش کاله کیږي چې بیلابیل دولتونه او حکومتونه واکمن شوي او څه یې چې کړي د زیارکښانو بدمرغه کول او بیوزله کول دي، څرنګه د زیارکښانو لپاره وطن کیدای شی؟ څرنګه چې مو پورته ووېل

دا وطن هغه وخت د زیارکښانو لپاره وطن کیدای شي چې زیارکښان چې د ټولني اکثریته برخه جوړوي، قدرت په خپل لاس کې ولري او د ناخوالی او رنځونو پرته سمسور هیواد جوړ کړي.